# معلولینو سره توپیري چلند مناسب نه دی

معلولین د ټولنې د زیانمنې برخې څخه شمیرل کیږی چې له ډېرو ټولنیزو اواقتصادی ستونزوسره مخ دي، همدااوس ۲.۷یا شاوخوا یوملیون معلولین په هیواد کې شته چې ډېرشمیریې د پرله پسې جګړوله کبله فزیکی معلولیت لری، همدارنګه په ټوله نړۍ کې ۶۵۰ ملیونه یا لس سلنه وګړې معلولین دي چې اتیا سلنه یې په مخ پروديې هیوادونوکې ژوندکوی، معلولین چاته ویل کیږی اومعلولیت څه شی دی؟ معلول هغه چاته ویل کیږي چې دځینولاملونوله کبله یولړمحدودیت ولري، اوکه دوی ته هوساینې اوامکانات وربرابرشي؛ نودوی هم کولی شي د نورو روغوکسانوپه شان فعالیت وکړي، چې په اوسنې حال کې معلولین له ډول ډول اقتصادی، فرهنګي، تعلیمي او ټولنیزوستونزوسره مخ دي.

اوپه خواشینۍ سره باید ووایو چې د ټولنې وګړي هم له دوی سره سم چلند نه کوي اوپه هیواد کې معلولین د دویمې برخې خلک شمیرل کیږي او خلک دهغوی په وړاندې له ناوړو اصلاحاتوڅخه کار اخلي او هغوي په لیونې، کوڼ، ړوند اونورو نومونوباندې یادوي، بله داچې کورنۍ هم د معلول شتون په کوراوکورنۍ کې شرم بولي، چې د ټولنیزوچاروکارپوهان په دې باور دي چې له معلولینوسره د خلکودا ډول چلند د معلولینوله حقونوڅخه د دوی ناپوهې اوبې خبرۍ ده.

د معلولینو رواني ستونزې څه دي؟
یوشمیرمعلولین وایی چې د ټولنې د وګړو له نامناسب چلند څخه ناخوښې دې او دا چلند پردوئ منفي اغیزه کوي ، همدارنګه دوئ وایي چې معلولیت ناتواني نه ده اوله عامو کسانوڅخه غوښتنه کوي چې له دوئ سره مرسته وکړي اوله دوی سره دې له بد چلنده لاس واخلي او په بدونومونو دې نه یادوي.
یوتن معلول چې نوم یې هیواد دی وایي: خلک له معلولینو سره ډیربد چلند کوي او ډیرئ معلولین مې لیدلي چې خلک یې په شل ګوډ اوداسې نورو نومونویادوي، هغه وائي کله چې زما پښې پرې شوې ؛ نوڅو ورځې وروسته چې له کوره بهر راووتلم اوډېره ستونزه یې هم لرله یوسړی مخې ته راغئ او راته کتل یې نو ویې ویل دې ګوډ ته ګوره چې بهر راوتلئ دئ، په دې وخت کې ډېر خپه شوم اوله خدایه مې د خپل ځان د مرګ غوښتنه وکړه ، خو اوس زه کولای شم چې پر مصنوعی پښو پرته له کومې ستونزې قدم ووهم، نو زما غوښته له خلکو داده چې له معلولیت لرونکو وګړو سره دې ښه چلند وکړي او هغوی دې په بدو نومونو نه یادوي.

همدارنګه یوبل تن معلول چې نوید نومیږی داسې وایی: زه د ننګرهارولایت اوسېدونکئ یم زموږ د ټولنې د خلکو ستونزه دا ده چې دوې کافي پوه او زده کړې نه لري او معلولین په ناوړه نومونوستایی، نو باید دوئ له خپل ځان سره فکر وکړي چې معلولین هم د دې ټولنې وګړي دي اوبله دا چې معلولین ډېرې ستونزې لري، نو نه ښایي چې دوئ په دې ناوړه نومونو یاد او ناهیلي اوکړي،

نوید دا هم وایی چې کله ناکله په ځینو ناستو کې ځینې کسان وايي هغه ګوډ راغئ، چې دا خبره پرمعلولینو او د معلول پر کورنۍ ډیره بده اغیزه کوي ، معلول په هماغه وخت کې داسې احساس کوي چې په ډیرو ستونزو کې راګیر دي، له خلکو غواړي چې په کلینیکونو، ښوونځیو او نورو ودانیو کې دې معلولینو ته پاملرنه وشي، اوپه جوماتونو کې دې د ملا امامانو، اوپه ښوونځیو کې دې د ښوونکو په واسطه خلکو ته د معلولینو د حقونواو له هغوی سره د ښه چلند په هکله معلومات ورکړي.

دولت هم باید د خلکو د ټولنیز خوندیتوب او په برابره توګه حقوقو ته د لاس رسۍ لپاره توپیرې چلند او پرته ستراتیژۍ او قوانین جوړ او نافذ کړي، معلولینوته دې په ښارونو او کلیو کې په بیلا بیل پراختیایی پروژو کې برخه ورکړي، او د هغوی د اقتصادي او تعلیمي ټولنیز خوندیتوب لارې چارې پیدا کړي تر څو ټول معلولین په برابره توګه دولتی امکاناتو لکه عامه روغتیایي ، ښوونیزو، ټرانسپورټي او کاري خدمتونو ته لاس رسئ وموميي او له دې لارې ورته د ځان بسیاینې زمینه برابره کړي.